بسم الله الرحمن الرحیم

سر یال نمبر: 452

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# ټانک؛ په امنیتي پوسته د تي تي پي ناکامه حمله، درې خوارج هلاک، په بوکلاهات کې پر بې ګناه خلکو د خوارج لخوا بزدلانه برید

خوارجو د ټانک په عمر اډه سیمه کې د امنیتي ځواکونو په پوسته د برید هڅه وکړه، چې امنیتي ځواکونو ناکامه کړه او درې خوارج جهنم ته لاړل۔

**ترهګرو د جنورۍ د 31 مې او د فبرورۍ د لومړۍ نیتې ترمنځ د عمر اډې په امنیتي پوسته ناکامه حمله وکړه۔ د دندې پر مهال امنیتي پرسونل د ترهګرو د نقل و حرکت په پېژندلو سره په نښه کړل۔ په سخته جګړه کې درې خوارجیان ووژل شول او ګڼ نور ټپیان شول۔**





**خوارج د امنیتي ځواکونو د برید له ناکامۍ څخه وروستو، د سیمې خلک یې په نښه کړل او د نږدې کلیو په لور یې بې توپیره ډزې وکړې۔ په پایله کې یو تن ملکي وګړی شهید او دوه تنه نور ټپیان شول۔**

په ټانک او مضافاتی سیمو کې امنیتي ځواکونه د ترهګرو د له منځه وړلو لپاره په پوره مېړانه کار کوي۔ په داسې حال کې چې د بزدل خواجا لخوا د امنیتي ځواکونو په وړاندې د ناکامۍ په صورت کې د بې ګناه خلکو په نښه کول د افسوس وړ خبره ده. چې په دې سره ولس له هغه سره خپله کرکه څرګندوي۔